رسول الله صلى الله عليه وسلم به د دوو سجدو تر منځه «رَبِّ اغْفِرْ لِي، رَبِّ اغْفِرْ لِي» وېل

له حذيفه رضي الله عنه څخه روايت دی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د دوو سجدو تر منځه «رَبِّ اغْفِرْ لِي، رَبِّ اغْفِرْ لِي» وېل.

[صحيح دی] [ابو داود، النسائي، ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم به د دوو سجدو تر منځه د ناستي پر مهال دا دعا کوله: «رَبِّ اغْفِرْ لِي، رَبِّ اغْفِرْ لِي». يعنې ربه ما ته ښښنه وکړه، ربه ما ته ښښنه وکړه. او تکراروله به يې. او د رب اغفرلی معنا: له رب څخه د بنده غوښتنه ده تر څو يې ګناه پاکه او عيبونه يې پټ کړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65104